يـــونامـــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندويه پلاوي دفتر
دستراتيژيکو اړيکو دفتر
مطبوعاتي بيانيه
www.unamanews.org/pashto

يوناما په زابل ولايت کې د۷ افغان ملکيانو وژنه غندي

کابل، د نوامبر يولسمه ۲۰۱۵ - د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) په سويلي ولايت زابل کې د حکومت مخالفو عناصرولخوا دوو ميرمنو، يوې نجلۍ او دوو هلکانوپه ګډون د اوو ملکي وګړو وژنه غندي.

دغه اوه واړه ملکي وګړي تيره مياشت يرغمل شول او د نوامبر د مياشتې د شپږمې او اتمې نيټې ترمنځ هغه مهال په ارغنداب ولسوالۍ کې اعدام شول ، چې د دوو سيالوحکومت مخالفو ډلو ترمنځ د وسله واله والي شخړې رپوټ ورکړل شو.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دسرمنشي د ځانګړي استازي او دملګرملتونو د مرستندويه پلاوي مشرنيکولاس هيسم وويل:" په عمدي ډول دښځو اوماشومانو په ګډون د يرغمل ملکي وګړو وژنه، په ځانګړي ډول يو ويرونکی عمل دی." هغه وويل:" دغه بې منطقه وژنه کيدی شي جنګي جرم وګڼل شي اوله عاملينو سره يې بايد د قانون پر اساس حساب کتاب وشي."

يوناما يوځل بيا تکراروي، چې د ملکي وګړو وژل او دارنګه د هغوی يرغمل کول د حکومت مخالفو عناصرو په ګډون د جګړې دټولو ښکيلو غاړو لخوا پرنړيوال بشري قانون ښکاره تيری او جدي سرغړونه ده، او دحکومت مخالفو عناصرو په ګډون دجګړې ټول ښکيل اړخونه بايد دغه قانون ته درناوی وکړي.

د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی د قربانيانو له کورنيو او خپلوانو سره د زړه له تله خواخوږي څرګندوي.

***